# وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

# د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

## د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# خبرپاڼه خبر نامه

**22قوس _سال 1402**





# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

## فهرست مطالب

عنوان صفحه


د قطر سفیر د مهاجرینو چارو له سرپرست وزیر سره ولیدل -------------------- 1

سرپرست وزارت امور مهاجرین در مراسم جنازه عبدالجبار بابه کرخیل شخصیت جهادی اشتراک نمود -------------------- 1

ننګرهار کې له زرو زیاتې کورنی له نغدي مرستو برخمنې شوې -------------------- 2

بیش از 100خانواده در ولایت بلخ مساعدت نقدی دریافت نمودند -------------------- 3

کمک ۵۸ میلیون دالری کشورجاپان برای عودت کنندگان در افغانستان -------------------- 4

سرپرست وزارت صحت عامه: عرضه خدمات صحی وضروری برای عودت کنندگان دراولویت است -------------------- 5

برېتانیا: بیبي ستوکهولم کښتی کې یو کډول مړ شوی -------------------- 6

فرانسه: ولسي جرګې د پارلماني بحثونو تر پیل مخکې د کډوالۍ د قانون مسوده رد کړه -------------------- 7

وزیر داخله آلمان فدرال می خواهد کنترول مرزی را تمدید کند -------------------- 9

یک پناهجو در بی‌بی استکهلم جان خود را از دست داد -------------------- 10


خبرنامه

# متن کامل اخبار

## د قطر سفیر د مهاجرینو چارو له سرپرست وزیر سره ولیدل

د وزارت ویب سایت



په کابل کې د قطر اسلامي دولت سفیر ښاغلي سعید بن مبارک الخیارین د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو له سرپرست وزیر الحاج خلیل الرحمن حقاني سره د هغه د کار په دفتر کې ولیدل

په پیل کې د مهاجرینو چارو وزیر د راستنېدونکو مهاجرینو په ستونزو او اړتیاو خبرې وکړې، نوموړي د افغانستان سره د قطر هېواد همېشنۍ همغږي او مرستې وستایلې او زیاته یې کړه، د ژمي په رارسېدو سره د مهاجرینو ستونزې زیاتې شوي دي، د مهاجرینو چارو وزارت د خپل پلان له مخې هڅه کوي ددوی ستونزو ته رسیدګي وکړي او په دې برخه کې د بشرپاله هېوادونو مرستو ته هم اړتیا ده

د قطر سفیر وویل، له افغانانو سره اړیکې زه د ځان لپاره ویاړ ګڼم، قطر هېواد د زلزله ځپلو سره هم ۶۰ ټنه د خوراکي او غیر خوراکي توکو مرستې وکړې او د مهاجرینو لپاره به هم خپلې هڅې ونه سپموو

نوموړي وویل، څو ورځې مخکې په دوحه کې د اسلامي هېوادونو یوه ناسته وه، چې په هغې کې د افغانستان په ملاتړ ټینګار وشو او د بشري مرستو په اړتیا هم خبرې وشوې

## سرپرست وزارت امور مهاجرین در مراسم جنازه عبدالجبار بابه کرخیل شخصیت جهادی اشتراک نمود

ویب سایت وزارت



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook**: *https://www.facebook.com/morr.gov.af2*



الحاج خلیل الرحمن حقانی سر پرست وزارت امور مهاجرین، الحاج محمد ارسلاح خروتی، معین مالی واداری وروسای مرکزی این وزارت، در مراسم جنازه عبدالجبار بابکرخیل شخصیت بزرگ جهادی ومتنفذ قومی اشتراک نمودند.

محترم حقانی وفات بابه کرخیل را ضایعه بزرگ گفت واز بار گاه خداوندمتعال برای مرحومی جنت فردوس و برای باز ماندگان واقاربش صبر جمیل استدعا نمود.

## ننګرهار کې له زرو زیاتې  کورنۍ له نغدي مرستو برخمنې شوې

د وزارت ویب سایت




**ننګرهار ولایت کې له ګاونډي هېواد څخه یو زرو او ۹۳ راستنېدونکو کورنیو ته د لیندۍ په ۲۰ مه نغدي مرستې ووېشل شوې.**

**په یادو مرستو کې، ۸۲۰ کورنیو ته ۱۳ زره او ۸۰۰ افغانۍ او دژمني پوښاک او روغتیایي کڅوړې د کډوالو د نړۍ وال سازمان له لوري او۲۷۳ نوروکورنیو ته ۶۱ زره او ۸۰۰ افغانۍ د ملګرو ملتونو د کډوالو د ادارې له لوري ددې ولایت د مهاجرینو ادارې تر څار لاندې ووېشل شوې.**

## بیش از 100خانواده در ولایت بلخ مساعدت نقدی دریافت نمودند

ویب سایت وزارت





**برای 178 خانواده عودت کننده و بیجاشده در ولایت بلخ به تاریخ 20 قوس مساعدت نقدی توزیع شد.**

**خانواده های یاد شده ازطرف ریاست مهاجرین آن ولایت قبلا شناسایی شده بودند، کمک نقدی کمیشنری عالی سازمان ملل متحد درامور پناهنده گان را که دردوکتگوری مبلغ 50 هزار افغانی و 29 هزارو 450 افغانی جهت رونق تجارت های کوچک بود در یافت نمودند.**

## کمک ۵۸ میلیون دالری کشورجاپان برای عودت کنندگان در افغانستان

آژانس اطلاعاتی باختر



**تاکایوشی کورومیا سفیر کشور جاپان در دیدار با قاری دین محمد حنیف سرپرست وزارت اقتصاد و مسؤول کیمته جلب و جذب کمک ها برای مهاجرین از کمک ۵۸ میلیونی کشورش برای کمک های اضطراری برای عودت کنندگان خبرداد.**
**دفتر مطبوعاتی وزارت اقتصاد بانشر این خبرگفته است: در این دیدار نمایندگان وزارت های مالیه امورخارجه احیا وانکشاف دهات مبارزه با حوادث هلال احمر افغانی و مسوول امنیت مهاجرین که اعضای کمیته جلب و جذب کمک ها برای مهاجرین میباشند صورت گرفته است.**
**در این دیدار سفیر کشور جاپان گفته است که این کمک ها توسط UNHCR یا سازمان ملل متحد برای عودت کننده برای عودت کننده گان نیازمند اجرا خواهد شد.**
**سفیر جاپان همچنان در این دیدار از آمادگی کشورش برای طرح و تطبیق پروژه ها بازسازی در افغانستان نیز اطمینان داده است.**

## سرپرست وزارت صحت عامه: عرضه خدمات صحی وضروری برای عودت کنندگان دراولویت است

آژانس اطلاعاتی باختر



**داکتر قلندر عباد سرپرست وزارت صحت عامه، امروز با نماینده سازمان بین المللی مهاجرت آی او ام دیدارکرد دفترمطبوعاتی وزارت صحت عامه با ارسال خبرنامه یی به آژانس باختر نگاشته است:دراین دیدار طرفین روی تقویت عرضه خدمات صحی برای عودت کننده‌گان افغان از کشورهای همسایه به خصوص پاکستان در مرزهای کشور گفتگو نمودند**

**سرپرست وزارت صحت صحت عامه بر عرضه خدمات صحی اساسی و ضروری برای عودت کنندگان افغان تاکید نموده و خواهان همکاری این نهاد با وزارت صحت عامه در راستای تقویت عرضه خدمات صحی برای آنان گردید**

**از سوی هم، نماینده سازمان بین المللی مهاجرت، بر همکاری شان برای عودت کننده گان افغان از کشورهای همسایه به خصوص پاکستان تاکید نموده گفت که این نهاد آماده همکاری در بخش صحت است.**

## بریتانیا: بیبي ستوکهولم کښتۍ کې یو کډول مړ شوی

مهاجرنیوز

**د بریتانیا پولیس وایي بیبي ستوکهولم کښتی کې یو کډوال مړ شوی دی. دغه کښتی چې پورتلند بندر کې موقعیت لري د کډوالو لپاره د سرپناه په توګه کارول کیږي .**

**د دورسېټ پولیس وایي نن سه شنبه د سهار په ۶ بجو او ۲۲ دقیقو یې بیبي ستوکهولم کښتی کې د یو کډوال «د ناڅاپي مړینې» خبر ترلاسه کړ. دغه کښتی چې د بریتانیا پورتلند بندر کې یې لنګر اچولی دی د پناه غوښتونکو لپاره د سرپناه په توګه کارول کیږي.**

**په ورته مهال د کورنیو چارو وزیر جېمز کلېورلي چې د بریتانیا پارلمان ته یې د کډوالی د نوي قانون مسوده وړاندې کوله ویلي دي چې د دې قضیې په اړه به «ژور تحقیقات» وکړي.**

که څه هم تر اوسه د پېښې په اړه جزیات نه دي ورکړل شوي، خو بی بی سی د یو شمېر سرچینو له قوله لیکلي ګومان کېږي چې دغه کډوال ځان وژنه کړې وي.

تر دې دمه د مړ شوي کس هویت نه دی څرګند. د هغه د عمر په اړه هم معلومات نه دي ورکړل شوي.

نیوکې او روغتیایي ستونزې

بیبي ستوکهولم یوه درې پوړیزه بېړۍ ده چې ۲۲۲ کوټې، سالون، تلویزیون، پخلنځی، د انټرنټ او د لوبو ځایونه لري. له دې وړاندې برېتانوي چارواکو ویلي وو په پام کې لري نږدې ۵۰۰ پناه غوښتونکي په دغه کښتۍ کې ځای پر ځای کړي.

د برېتانیا حکومت د روان کال په اپریل میاشت کې اعلان کړی و چې د لګښتونو د کمولو په موخه کډوال د بیبی ستوکهولم په ګډون په کښتیو کې ساتل غواړي .هغه مهال حکومت دغې پرېکړې د ګڼو بشري سازمانونو غبرګونونه راپارولي وو.

د سازمانونو د نیوکو سربېره د برېتانیا د کورنیو چارو وزارت په اګست میاشت کې د کډوالو لومړۍ ډله دغه کښتۍ ته پورته کړه. خو لږ وروسته د بیبي ستاکهولم د کانالیزاسیون په سیستم کې د لیجېنالا باکترۍ له موندل کېدو سره سم کډوال له دغې کښتۍ څخه وایستل شول .

چارواکو د اکتوبر میاشت کې اعلان وکړ چې د کښتۍ د اوبو په سیستم کې یې روغتیایي ستونزه هواره کړې او بیبي ستوکهولم ته یې د کډوالو د بیا استولو لړۍ پیل کړې ده.

## فرانسه: ولسي جرګې د پارلماني بحثونو تر پیل مخکې د کډوالۍ د قانون مسوده رد کړه

مهاجرنیوز



د فرانسې د ولسي جرګې استازو پرون دوشنبه د کډوالۍ د نوې قانون مسوده رد کړه. دغه متن چې د کورنیو چارو وزیر له خوا چمتو شوی و د پارلماني بحثونو تر پیل مخکې په اکثریت رایو سره رد شو .

د کډوالۍ د نوي قانون مسوده چې د فرانسې د کورنیو چارو وزیر ژرالد دارمنن له خوا ولسي جرګې ته د تصویب لپاره استول شوې وه د دوشنبې په ورځ د ډېسمبر په ۱۱مه له پارلماني بحثونو تر پیل مخکې په ۲۷۰ مخالفو او ۲۶۵ موافقو رایو رد شوه.

د فرانسې لومړۍ وزیرې الیزابت بورن د ولسي جرګې له دغې پرېکړې وروسته د وضعیت د ارزولو لپاره بېړنۍ غونډه را وبلله.

همدارنګه د کورنیو چارو د فرانسې ولسمشر ته خپله استعفا وړاندې کړه، خو استعفا یې و نه منل شوه. د فرانسې خبري اژانس د ولسمشرۍ ماڼۍ د یوې سرچینې له قوله لیکي، امانویل مکرون ژرالد دارمنن ته هدایت وکړ چې د دغه بندښت د لرې کولو لپاره نوې لارې چارې ومومي.

د یادولو ده چې فرانسوي سناتورانو د نومبر په ۱۴مه د کډوالۍ او پناه غوښتنې مسوده له یو لړ بدلونونو وروسته تصویب کړې وه. په دغه مسوده کې د پناه غوښتنې شرایط نور هم سخت شوي وو.

بیا ولولئ :د فرانسې مشرانو جرګې د پناه غوښتنې او کډوالو شخړیزه مسوده تصویب کړه

»ناکامي«

اوس حکومت کولی شي چې دا متن بېرته مشرانو جرګې ته واستوي او یا ترې منصرف شي.

د کورنیو چارو زیر تې اف ۱ سره خبرو کې د قانون د مسودې ردېدنه یوه «ناکامي «وبلله. هغه ولسي جرګه کې د ښي او کېڼ اړخو سیاستوالو ایتلاف «غیر مقدس «وباله او زیاته یې کړه: «زه غواړم پولیسو، ژاندارمو، قومندانیو، قاضیانو ته له ناقانونه کډوالۍ سره د مبارزې ابزار ورکړم«.

خو د توندلارې ښې اړخي مشرې مارین لو پن بیا د پارلمان دغه پرېکړه وستایله او ویې ویل چې «فرانسویان یې د کډوالۍ له څپو ژغورلي دي.«

بل لور ته د کېڼ اړخي ډلې مشر ژان لوک ملانشون پر خپله اېکس پاڼه ولیکل» :داسې ښکاري چې هغه [د کورنیو چارو وزیر ژرالد دارمنن] او قانون یې پای ته رسېدلی دی«.

په دغه مسوده کې راغلي وو چې د پناه غوښتنلیکونو د ارزولو لړۍ باید چټکه شي او هغه کارګرو ته چې له مشکلاتو سره مخ سکټورونو کې بوخت دي فرانسه کې د اوسېدو اسناد ورکړل شي. همدارنګه له فرانسې څخه د خطرناکه بهرنیانو پر شړلو ټینګار شوی و. بله شخړیزه مسله له بهرنیانو سره د روغتیایي مرستو ځنډونه وه چې د مشرانو جرګې له لوري وړاندیز شوې وه.

## وزیر داخله آلمان فدرال می خواهد کنترول مرزی را تمدید کند

مهاجرنیوز

نانسی فیزر، وزیر داخله آلمان از کنترول مرزی به عنوان یک اقدام موثر یاد کرد و گفت که قصد تمدید آن را دارد. این در حالی است که روند افزایش درخواست های پناهندگی در ماه نومبر نیز ادامه یافته است.

نانسی فیزر، وزیر داخله آلمان اعلام کرده که قصد دارد کنترول را در مرزهای مشترک با پولند، چک و سویس تا اواسط ماه فبروری سال آینده تمدید کند.

او به روزنامه آلمانی »راینیشه پُست» در ارتباط با این تصمیم گفت: «مبارزه ما برعلیه کسب و کار بی شرمانه قاچاقبران بی وجدان که بی رحمانه با زندگی انسان ها بازی می کنند، موفقانه بوده است«.

بیشتر بخوانید :آلمان کنترول های مرزی را تا ۱۵ ماه دسمبر تمدید کرد

بنا به گزارش وزیر داخله آلمان از زمانی که کنترول مرزی در أواسط ماه اکتوبر آغاز شد، پولیس فدرال در سه مرز مشترک با چک، پولند و سویس تقریبا ۱۲۰ قاچاقبر را دستگیر کرده است.

به گفته فیزر، در صورتی که کنترول های مرزی تمدید نشوند، به تاریخ ۱۵ دسمبر پایان می یابند. او گفت: «بسته (اقدامات ما) که از کنترول های ثابت و سیار تشکیل شده است برای مهار مهاجرت افراد بدون مدرک به آلمان و کاهش فشار بر نواحی اداری بسیار موثر بوده است«.

به گفته وزیر داخله آلمان طی کنترول مرزی با چک، پولند و سویس حدود ۹۲۰۰ ورود غیرمجاز (به کشور) ثبت شده است و در حدود ۴۳۷۰ مورد با اقدامات لازم از ورود غیرمجاز افراد جلوگیری شده و به اقامت های غیرقانونی نیز پایان داده شده است«.

**ادامه روند افزایش درخواست های پناهندگی در ماه نومبر**

**اما بنا به ارقامی که توسط اداره فدرال آلمان برای مهاجران و پناهندگی (بامف) به صورت آنلاین نشر شده است، تعداد درخواست های پناهندگی در ماه نومبر کماکان افزایش یافته است. براین أساس بیش از ۳۵ هزار تن در آلمان برای نخستین بار درخواست پناهندگی ارائه دادند که این رقم حدود ۱۱ درصد بیشتر از ماه اکتوبر است.**

**مجموع تعداد درخواست های پناهندگی که در این سال برای نخستین بار ارائه شدند، در ماه نومبر به ۳۰۰ هزار رسید. این رقم با آن چه که ایالات فدرال آلمان پیش بینی کرده بودند، مطابقت دارد.**

**بیشتر بخوانید :افزایش رقم پناهجویان؛ تصمیم آلمان برای کنترول مرزهای مشترک با سه کشور همسایه**

**در مجموع در سال روان حدود ۳۰۵ هزار درخواست ارائه شده است که در مقایسه با همین دوره در سال گذشته بیش از دوبرابر شده است.**

**بیشتر پناهجویان از کشورهای سوریه، ترکیه و افغانستان بودند. بنا به ارقام اداره فدرال آلمان برای مهاجرت و پناهندگان، میزان پناهجویان سوریایی و افغان بالا است و به ترتیب به ۸۸ درصد و ۷۶ درصد می رسد. اما درخواست های پناهجویان از ترکیه فقط در حدود ۱۴ درصد از موارد به رسمیت شناخته می شود.**

## یک پناهجو در بی‌بی استکهلم جان خود را از دست داد

بی بی سی

**یک پناهجو در شناور بی‌بی استکهلم در ساحل دورست در جنوب بریتانیا جان باخته است. چند منبع به بی‌بی‌سی گفته‌اند تصور بر این است که این مرد جان خود را گرفته است. سن و ملیت او هنوز مشخص نیست.**

**پلیس دورست ساعت ۶:۲۰ صبح به وقت محلی به این کشتی فراخوانده شد که در بندر پورتلند پهلو گرفته است و گروهی مرد بزرگسال در آن اسکان داده شده‌اند که منتظر رسیدگی به درخواست پناهندگی‌شان هستند.**

**به گفته ریچارد دراکس، نماینده منطقه در پارلمان، این «تراژدی» نتیجه یک «وضعیت ناممکن» است.**

**این کشتی سه طبقه که دویست کابین دارد، تا پانصد پناهجو را می‌تواند اسکان دهد.**

**استیو اسمیت، مدیر عامل یک خیریه پناهجویان، به نام «کرفورکاله» گفت کسانی که در این کشتی اسکان داده شده‌اند امروز «احساس اندوه و نگرانی شدیدی می‌کنند و دولت بریتانیا باید مسئولیت این تراژدی انسانی را بپذیرد.»**